رابعه عابد ۲۰۰۹/۰۳/۰۸م

# دمارچ اتمه د افغانستان په ناورین کې

سرکال بيا هم لکه د تېرو کلونو په څېر، په جنګ ځپلي افغانستان کې د مارچ اتمه، د ښځو نړېواله ورځ د افغانستان د ښځو د چارو وزارت لخوا په درانه لګښت سره په داسې حال کې لمانځل کېږي، چې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې ښځې د بې شمېره ستونزو سره لاس او ګرېوان دي. پر ټولنيزو ستونزو برسېره، اقتصادي او کورنۍ ستونزې هغه لاملونه دي، چې ښځې يې ځان وژلو ته اړباسلي دي. له همدې کبله ده، چې په ښځو کې د ځان سوځلو کچه د تېر کال په پرتله لاهم لوړه شوې ده.

پوښتنه دا ده، چې د افغانستان دولت د ښځو د چارو وزارت په چوکاټ کې د ښځو لپاره کوم عملي ګامونه پورته کړي دي؟ ځواب روښانه او څرګند دی. د ښځو د چارو وزارت هم لکه د افغانستان د بې کفايته دولت د نورو ناکاره وزارتونو په څير د هېواد د ښځو د سوکالۍ لپاره هېڅ ډول ګامونه نه دي اوچت کړي.

د خندا وړ خبره خو لا داده، چې د جنګي جنايت کوونکو ډلو ټپلو مشران هم د ښځو له حقوقو څخه خبرې کوي. د خوشحال بابا په قول

«هم مي ووژني په خپله هم په ما بـــاندي ژړا کا»
دې جنګي کافر ته ګوره «وژل هسي شيون هسي».

هغوی په حقه د بشر پر حقوقو تېري کوونکي بلل کېږي او په ويرځپلي افغانستان کې د انساني ناورين لامل ګڼل کېږي. هو، دوی وو، چې زمونږ ګران هېواد يې په کنډوالو بدل کړ. لاسونه يې د لکونو او ميليونونو بېګناه افغانانو په وينو سره دي او د اتو ميليونو په شا او خوا کې وګړي يې د وطن څخه کډو ته اړ کړي دي. زمونږ بې وزلو خلکو ته د سوکاله ژوندانه او روښانه صباوون پر ځآی پر بدمرغۍ او تيارو برسېره د طالبانو کرغېړن خوځښت هم د دوی ډالۍ او پايله ده. هو، همدوی وو، چې د افغانستان ښځې يې نه يوازې د خپلو حقه حقوقو څخه محرومې کړې، بلکه له دوی څخه يې د دوی ورونه، زامن او د ماشومانو سرپرستان هم واخيستل. دغو بی ناموسو، چې په پاکستان کې پر عربو باندې د افغانی درنو بيبيانو پلورلو تمرين کړی وه، کله چې په افغانستان کې دوی ته د قدرت د واګې اخيستلو زمينه برابره شوه، د خلکو په ناموس او شرف يې تيری وکړ او يتمنې افغانانې يې د سرکونو او واټونو پر سر خيرغوښتلو ته اړې کړې. نو په داسې دولت کې، چې جنګي جنايت کوونکي يې په لوړپوړو مقامونو کې ډېره وهلې وي، د ښځو د ورځې لمانځل افغانې ستم ځپلو ښځو ته سپکاوی دی.

د افغانستان ښځې به هغه وخت له دې ټولو ستونزو او بدمرغيو څخه خلاصون ومومي، چې هېواد مو له دغو ناولو او د پرديو چوپړو جګړه مارو جنايت کوونکو څخه خلاص شي او د وطن توری شپې مو د خپلواکی لمر په رڼا ورځو بدلې کړي.

پای


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de